بسم الله الرحمن الرحيم

ادارېه

# د پاک افغان د ښه تعلق نوي امکانات

د دوؤ ګاونډي ملکونو ترمېنځه په ځينې معاملو د تاوتريخوالي ځينې مرحلې راتلل کله کله امکانات لري. خو دغه امکانات داسې حد ته رسول چې هغه دشمنانه شکل اختيار کړي د تشويش خبره وي. په افغانستان کښې د ثور انقلاب ناکام صحي. خو د دغې ناکام انقلاب په وجه هم هغلته د بادشاهت ځائې په ډېر مشکل کښې هم جمهوريت نيولے دے. د پاک افغان د تعلق د خرابۍ نوعيت في الحال د هغو تنظيمونو په کاروايانو دے. د کومو الزامات چې د دواړو غاړو د حکومتونو له خوا په يو بل لګي. د دې کاروايانو د مخنيوي دپاره کۀ کوټلي اقدامات نۀ کېږي يا تراوسه نۀ دي شوي د دې هم ډېرې وجې دي چې هغه خالص استعاراتي شکل لري.

د دغسې پيچيدګيو په اندرون کښې چې نظر ځومره کار کوي او د علاقې په پوره ګاونډ نظر اچوي نو د افسوس ناک حده پورې د تعلق صورت حال تريخ په نظر راځي. حالانکې د دې علاقې د نننې معروض په رڼا کښې بايد چې موجود ګاونډ يو بل ته غاړې ورکړې وي. خو د غاړو ورکولو په ځائې د يو بل نه لرې والے د نن حقيقت دے. په خصوصيت سره د پاک افغان د حکومتونو سره سره د دې ځائې د اولسونو ترمېنځه چې کوم نفرت اميز صورت حال دے هغه بايد چې په نظر کښې ونيولے شي چې دغه حالات دې ځائې ته ولې را ورسېدل. په دې معامله کښې بايد چې دا ادراک هم وکړے شي چې ځينې خبرې په ځينې وختونو کښې پټېدے هم شي. خو ځينې وختونه په ژوند کښې داسې هم راځي چې د دغو پټو کړے شوو خبرو نه حالات پرده هم پورته کولے شي. او په دويم ځل پرې پرده اچول ډېر ګران شي. او د دې خبرې هم ادراک په کار دے چې غريب ملکونه کۀ هر څو لګيا دي مجبوراً د خپل سادر سره خپې غزوي خو بيا هم د دنيا سره روزګار کول ئې هم مجبوري وي. او د ځان دپاره د ترقۍ خوبونه ليدل ئې هم د ژوند د ارمانونو برخه وي. کۀ کمزوري او غريب ملکونه دنيا ته محتاجي لري نو مالدار او سرمايه دار ملکونه هم غريبو ملکونو ته محتاجي لري. او دغه محتاجي د غريبو ملکونو د محتاجۍ نه کمه يا وړه محتاجي نۀ وي. مثلاً چين په تېرو ورځو کښې د پاک افغان د تعلقاتو جوړولو دپاره د مصالحت پېشکش کړے دے. دغه پېشکش نۀ پاکستان مسترد کړے دے او نۀ افغانستان. بې شکه دا د دواړو ګاونډي ملکونو دپاره د قدر وړ پېشکش دے خو په نننې صورت حال کښې د چين دپاره بزات خود د دغو دواړو ملکونو نه زيات د هغوي خپل ضرورت هم دے. ګوادر ته د چين راتلل يوازې ګوادر ته راتلل نۀ دي بلکې د افغانستان دننه د هغوي سرمايه کارانه سرګرمۍ او تر وسط ايشياء پورې د هغوي د رسېدو هدف د هغوي د سرمايه کارانه سرګرميو تقاضا هم ده. هغوي په افغانستان کښې په ځينې قدرتي وسايلو نۀ يوازې نظر لري بلکې د هغې نه د پوره

پوره استفادې کولو نیت او ضرورت هم لري. د دې دپاره د هغوي د ډېر مخکښې نه د پوره منصوبه بندۍ سره د پښتو ژبې زده کولو دپاره هم عملي اقدامات کړي وو. د هغوي دغسې وفدونه افغانستان ته تلي هم دي. چې هغوي باقاعده پښتو وئیلے،لیکلے او لوستلے هم شي.

اوس اوس چې کوم اجلاس په ,,استانه،، کښې شوے ؤ په هغې کښې د افغانستان او چین ترمینځه دا خبره لاسلیک شوې ده چې چین به د شیرخان بندر نه د هرات پورې د ریل ګاډي پټلۍ تېروي. اوس نو کۀ د چا نیت ښه دے او کۀ بد دا د سرمایه کارۍ د مفاداتو د حصول هغه تقاضې دي چې په نیتونو کښې خامخا فرقونه راولي. ځکه چې دا د ټولو د مفاداتو مطابق دي. او هم دغه مفادات په دغو ټولو زورور دي. د پاړه چنار د خرلاچي چیک پوسټ د دغې حالاتو باوجود د تجارت دپاره آزادول د پاکستان د خپلو مفاداتو زور هم دے. په دې کښې هم شک نشته چې د دې باوجود په ډېرو بین الاقوامي او ملکي حوالو اوس هم دا مسئلې د امن په لار حل کول ډېر مشکلات لري. خو د معروضي حالاتو جبر او زور او په نننۍ دنیا کښې د اوسېدو او د نننني ژوند د حصول لټول اوس د خوښې عمل نۀ دے. ځکه نو امکانات دواړه طرف ته موجود دي.

زمونږ د علاقائي سیاسي خلقو او راهنمایانو نه خبره دومره په بې دردۍ سره داسې بد امنۍ ته رسېدلې ده چې د خپلې ترقۍ خوبونه او خیالونه ئې هم پکښې بائیللي دي. د مشرق وسطي اوسني صورت حال ته په وړوکي او لنډ تنګ تناظر کښې کتل ځان په خپله د خوش فهمۍ غېږ ته ور اچول دي. ګني دلته دا ویره هر وخت موجوده ده چې د امن مسئله دوباره پېدا شي او کۀ داسې وشي نو دا به ډېره لویه المیه وي.

په افغانستان او پاکستان دواړو کښې د دهماکو نوې سلسله. په مشرق وسطي کښې داسې نوي صورت حال پېدا کول چې په ظاهره هیڅ جواز نۀ لري خو په باطن کښې ډېرې زلزلې لري. کۀ د وخته په دې غور او فکر ونۀ کړے شو نو صرف نظر به ترې ډېره د تاوان لاره وي. دلته تش غیر یقیني صورت حال پېدا کول هم شاید چې د هغې متل په مصداق ثابت شي چې وائي ,, د لوندو ختو لړې اوبه بهانه وي،،.

په دغسې وخت او حالاتو کښې د پاک افغان د تعلقاتو ښه ډېر امکانات موجود دي او د ښه تعلق اثرات به ئې د ټولو ګاونډي ملکونو ترمینځه په مثبت تعلق تمامېږي. خو شرط دا دے چې مونږ د دې اثراتو یوازې ادراک ونۀ کړو بلکې دا موقعه ضائع نۀ کړے شي دا به په خصوصیت سره د پاک افغان د قیادت امتحان وي د دې دپاره یوازې د ښه نیت ضرورت نۀ دے بلکې معروضي حقیقتونه پېژندل او تسلیمول به د هر څه نه زیات ضروري وي.

زمونږ د څلورو ملکونو په ګاونډ کښې د دریو ملکونو سره خراب تعلق کۀ یو طرفته زمونږ د خارجي سیاست خامۍ په ګوته کوي نو بل طرف ته د خلیج د نوي صورت حال د اثراتو نه هم بچ کېدل هیڅ امکان نۀ لري. د دې نوي صورت حال تقاضا هم دا ده چې د پاک افغان تعلق بحالول ډېر زیات ضروري شوې دي خو دا به هم د اعتبار د بحالۍ نه بغېر وخت تېري وي. او د وخت تیري ګنجائش لکه په دې حالاتو کښې نور نشته.